

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديْ اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۳۵ | مسلسل نمبر: ۷۷

شنبه، د جمادی الآخرة ۱۲ مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال




# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لــه لوري د ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو کــې د بخش اباد بند د تونلونـــو جوړولو چارو پرانیســـته وشوه. په هغو مراســـمو کې چې له همدې امله جوړ شوي و، د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بخش آباد بند د فراه ولایت لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه وبلله. په ۱۴۰۳ لمریز کال کې په فراه ولایــت کې د بخش اباد بند د اوبو انحرافي تونلونو د کیندلو چارې بشــپړې شوې. د دغه بند د ساختماني شرکت مســـوولینو وویل، د اوبو ګرځولو تونلونو د شارټ کرېټ او راکبولټېنګ ماشینري یې ساحې ته رســـېدلې، چې ډېر ژر به یې د کانکرېټ چــارې هم ورسره پیل شي. د ۱۴۰۳ کال د لیندی په ۲۳مه نیټه  د بخش اباد بند د انحرافي تونلونو د سیخ بندی چارې بشــپړې شوې او د قالب بندی چارې یې په چټکۍ سره رواني دي.

ډېر د خوښۍ ځای دی چې په افغانستان کې د یو ستر بند چارې سوکه ســـوکه مخ په بشپړېدو دي. دا تر لمر روښـــانه خبره ده چې افغانســـتان پربمانه خوږې اوبه لري، نو په کار ده چې په ســـم ډول مدیریت شي. د اوبو د مدیریت له پاره مهمه لار داده چې پر روانو اوبو بندونه جـــوړ شي. له دې بندونو څخـــه هم د کرنیزو ځمکو د خړوبولو او هم د برېښنـــا د تولید په برخه کې ګټه پورته شي. د همدې موخې پر بنسټ اسلامي امارت هڅې پیل کړې دي چې په هېواد کې د اوبو مهارولو له پاره نوي بندونـــه او یا هم هغه بندونه چې پخوا جوړ شـــوي او چارې یې نه دي بشـــپړې شوې، ورغوي. ددې بندونو له ډلې یو د فراه ولایت د بخش اباد بند دی چې اســـلامي امارت یـــې د پاتې چارو د بشـــپړولو کارونه عملا پیل کړي دي. دغه بند چې په کلني ډول د ۶۸ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو، د ۲۷ میګاواټه برېښنـــا د تولید ورتیا لري، په جوړېدو به یې تر ځمکه لاندې اوبو زیرمې تغذیه او د اوبو بې ځایه لګښت مخه به ونیول شي. دغه راز به د ســـیلابونو اوبه مهار او د سطحې اوبو په برخه کې به رغنده رول ولوبوي. د بخش اباد بند په جوړېدو به کرنه او مالداري وده وکړي.

ددې ترڅنګ د هرات د پاشـــدان بنـــد چې پاتې چـــارې یې د ۱۴۰۳لمریز کال پـــه لومړیو کې پیل شـــوې، اوس مهال یې د اوبو زیرمـــه کول پیل شـــوي او له دې سره سم به په نږدې ورځو کې د کابل د شـــاه او عروس بند هم ګټې اخیســـتنې ته وســـپارل شي. ددې درېیو سترو بندونو په جوړېدو سره بـــه په هېواد کې له یوه لـــوري اوبه مدیریت او له بل لوري به برېښنـــا تولید او کرنه به پراختیا وموومي. دا ټولـــې هغه برخې دي چې کولای شي د هـــېواد پر اقتصـــادي وده مثبته اغېزه وکړي او اقتصاد پر خپلو پښو ودروي.

## د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې پر یوشمېر موضوعاتو بحث وشو



۲ صفحه

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم فاتحه شـــهید الحاج خلیل الرحمن حقانی تقبله الله اشتراک نمود



۲ مه صفحه

## د سترې عالي شـــورا په ناسته کې منظور شويو ستندردونو ته کتنه



۴ مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته نامه آبادی

## د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې پر یوشمېر موضوعاتو بحث وشو



د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجندا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. دې غونډې ته د ډي پي ورلډ (DP World) شرکت د شرطپاڼې په تړاو متحده عربي اماراتو ته د افغانستان اسلامي امارت د پلاوي کاري راپور، د کاسا زر پروژې په اړه د افغانستان برېښنا شرکت د ټاکل شوي پلاوي راپور، د افغان – ټرانس پروژې په تړاو د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ معینیت راپور، د مناګۍ برېښنا بند په تړاو د افغانستان برېښنا شرکت راپور، د جواز السیر او لایسنس الکترونیکي کولو طرحه او یوشمېر نور اقتصادي موضوعات وړاندې شول.

له هراړخیز بحث وروسته د افغان – ټرانس پروژې په تړاو د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ معینیت راپور تایید او اړوندو امارتي وزارتونو او ادارو ته د لازمو کړنو ترسره کولو سپارښتنه وشوه. د یادو نورو موضوعاتو په اړه هم له مفصل بحث وروسته لازم تصامیم ونیول شول.

د کمېسیون دا غونډه د خیر په دعا پای ته ورسېده.

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم فاتحه شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی تقبله الله اشتراک نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخوند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در ولسوالی گرده څیرۍ ولایت پکتیا در مراسم فاتحۀ شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی تقبله الله اشتراک نمود.

معاون اقتصاد ریاست الوزراء ضمن اتحاف دعا به روح پاک شهید خلیل الرحمن حقانی تقبله الله، وی را مجاهدی قوی و خدمتگزار واقعی مردم خوانده، گفت که این ضایعه جبران ناپذیری برای امارت اسلامی است.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء و سایر شرکت کنندگان در مراسم فاتحه به خانوادۀ شهید و سرپرست وزارت داخله امارت اسلامی محترم سراج الدین حقانی صاحب مراتب تسلیت و غمشریکی خود را عرض و از دربار خداوند متعال برای ورثۀ شهید صبر جمیل استدعا نمود.

## د اسلامي امارت په راتګ سره د سمنټو د تولید په برخه کې شاوخوا ۴۳ میلیارده افغانۍ پانګونه جذب شوې ده

د افغانستان اسلامي امارت له هر څه وړاندې د افغانستان د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره خپلې هلې ځلې چټکې کړې دي او په دې برخه کې له ټولو هغو لارو چارو ګټه پورته کوي چې د افغانستان اقتصاد ورسره پیاوړی کېدای شي. یوه په‌کې د هېواد د زېربناوو د بیارغونې او جوړونې له پاره د اړتیا وړ سمنټ برابرول دي.

اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې برخه کې هېواد پر ځان بسیا کړي. په همدې موخه یې په هېواد کې د سمنټو فابریکو بیارغونې او د نویو فابریکو جوړولو ته مخه کړې ده.

د بغلان د غوري، د پروان د جبل السراج، د کندهار د

پاتې په راتلونکې مخ کې...

شــوراندام، د جوزجان يتيم تاق او پــه هرات کې د ســيمنټو فابريکــې دي. د جبل السراج د ســيمنټو فابريکه چې د اســلامي امارت له لوري د ۷۰ ميليونو افغانيو په لګښت ورغول شوه، اوس د بهرني او افغاني شرکت لــه لوري د شــاوخوا ۱۵ ميليــاردو افغانيو په پانګونې سره پراختيا مومي. د کندهار د شــوراندام د سيمنټو په فابريکه کې ۷ ميلياره افغانۍ او د هرات د سيمنټو په فابريکه کې بيا شاوخوا ۱۰ميلياره افغانۍ پانګونه کيږي. د رياســت الوزراء اقتصادي مرستيال محــترم ملا عبدالغنــي برادر اخوند پــه حضور کې د کانونو او پټروليم وزارت او د ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د شاوخوا ۱۱ مېلياره افغانيو په پانګونې سره د جوزجان ولايت د يتيم تاق د سيمنټو توليدي فابريکې د جوړولو تړون لاسليک شو. ددې فابريکو په فعاليت سره به د سيمنټو د توليد کچه لوړه اوتر ډېره بريده به د اړتيا وړ سيمنټ په کور دننه توليد شي.

ددې ترڅنګ به په زرګونو هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه هم برابره شي.

د يادونــې وړ ده چې دوو افغان او چينايي شرکتونو په بلخ ولايت کې د ســيمنټو فابريکې د جوړېدو له پاره د ۲۰۰ ميليونــو ډالرو په ارزښــت پانګونې تــه ليوالتيا ښودلې ده.




## د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون فوق‌العاده غونډه ترسره شوه



د رياســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتيال محــترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د قوس مياشــتې په ۲۱مه نېټه د اقتصادي کمېســيون فوق‌العــاده غونډه ترسره شــوه. په دغــه غونډه کې د يوشــمېر هغو پرېکړو په اړه له اړونــدو وزارتونو او ادارو سره د تطبيــق او عملي کولو په اړه بحث او سپارښــتنې وشــوې، چې د افغانســتان اســلامي امارت د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی له لوري يې د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت ته د تعقيب او درې مياشــتې وروسته يې د راپور شريکولو دنده سپارل شوې ده.

د يادونــې وړ ده چــې يــادې پرېکــړې د اقتصــادي کمېســيون په هغه غونډه کې چې د ۱۴۴۶هـ ق کال د جــمادي الاولی مياشــتې پــه درېيمه نېټــه د عاليقدر اميرالمؤمنيــن شــيخ القرآن و الحديث مولــوی هبة الله اخنــدزاده حفظه الله تعالی په مشرۍ ترسره شــوې وه، شوې دي.

## د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور پــه تړاو د ۱.۱.۱ د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميه!

د افغانســتان اقتصادي وضعيت پــه اړه د نړيوال بانک له لوري د ۲۰۲۴ ميلادي کال د ډسمبر مياشتې په لومړيو کې راپــور خپور شــوی دی. په دې راپور کــې نړيوال بانک د افغانســتان اقتصادي وضعيت په اړه خپلې موندنې شريکې کړې دي چې ډېری يې له عيني واقعيتونو څخه لېرې دي.

د افغانستان اســلامي امارت د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت د اقتصادي وضعيت په تړاو منعکس شوې موندنې ردوي.

سره له دې چې په نشر شــوي راپور کې د کورنې ناخالص توليد ودې، د بهرنيو اســعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت او صادراتــو کچې ثابت پاتې کېــدو، د کورنيو عوايدو د ټاکل شــوي هدف ترلاســه کېدو، د خوراکي توکو بيو ټيټېدو او کورنې صنعت او بانکي سکټور کې شوې پرمختګ ته اشاره شوې ده؛ خو په يادو برخو کې وړاندې شوې د ودې سلنه او پرمختګونه تر دې هم لوړ او زيات دي.

په راپور کې راغلي چې د بې کارۍ کچه لوړه، د زېربنايي پروژو نه پيل او د پانګونې کچه محدوده ده. خو د اسلامي امارت په راتګ سره په مختلفو سکتورونو کې د بېلابېلو لکه قوش تېپې ملي کانال، ټاپي، لويو لارو او بندونو، اوسپنې پټلۍ او برېښنا د توليد پروژو پيل د بېلګې په ډول يادولی شو. همدا ډول يوازې د ستر مقياس کانونو په برخه کې شاوخوا ۴۱۵ ميليارده افغانۍ کورنۍ او بهرنۍ پانګونه او په نورو برخو کې هم ورته پانګونه جذب شوې ده. غوره ده چې نړېوالې ټولنه د حقايقو په واقعي درک له افغانستان سره مثبت تعامل ته مخه کړي، له دې سره به افغانستان په اقتصادي برخه کې نور هم پرمختګ وکړي.



# د سټنډرډ عالي شورا

## په ناسته کې منظور شويو سټنډرډونو ته کتنه

**ليکوال: زاهد خليلي**

## سريزه

سټنډرډونه په هره برخه کې مهم دي. دا د يو هېواد په پرمختګ او ښه والي راوستلو کې اساسي رول لري. سټنډرډونه په يو هېواد کې د معياري وارداتو او په کور دننه معياري توليداتو له پاره ډېر مهم دي. که چېرې مونږ په سټنډرډونو برابر واردات او توليدات و نه لرو، نو ولس به مو د روغتيايي او چاپېريالي ستونزو په ګډون له ګڼو نورو ستونزو سره مخ شي. دغه راز، په حکومتي ادارو او سوداګرو به د خلکو باور راکم شي.

په دې مقاله کې په لنډ ډول د سټنډرډونو په ارزښت، په سوداګرۍ او اقتصاد کې يې رول او د اسلامي امارت له لوري تصويب شويو سټنډرډونو ته لنډه کتنه کوو.

## د سټنډرډونو ارزښت

په يو هېواد کې د سټنډرډونو موجوديت د وارداتو او توليداتو له پاره ډېر مهم دي. سټنډرډونه په يو هېواد کې د اوږد مهاله پرمختګ، اقتصادي ګټو، معياري خدماتو وړاندې کولو، پر حکومت د خلکو باور، سوداګرۍ غوړېدو، د کيفيت د ښه کولو او د روغتيايي او چاپېريالي خونديتوب رامنځته کولو کې مهم رول لري. که چېرې مونږ سټنډرډونه و نه لرو او يا د وضع شويو سټنډرډونو مطابق واردات او توليدات و نه لرو، نو ټولنه به مو له ګڼو ستونزو سره مخ شي.

سټنډرډونه د صنعت، کرنې، درملو، سوداګرۍ، مخابراتو او ارتباطاتو په ګډون په ټولو برخو کې مهم دي. سټنډرډونه دا باوري کوي چې يو حکومت د خپل ولس له پاره معياري واردات او توليدات غواړي. سټنډرډونه د کيفيت او خونديتوب له پاره د ملا د تير حيثيت لري. سټنډرډونه د وارداتو او توليداتو له پاره يو چوکاټ جوړوي او واردوونکو او توليدوونکو ته په کار ده چې د ټاکل شويو سټنډرډونو مطابق توکي وارد او توليد ولري.

سټنډرډونه په سوداګرۍ، اقتصاد، ټيکنالوجۍ، صنعت، ساينس، اداره او مديريتي برخه کې کيفيت تضمينوي او د ښه والي سبب يې ګرځي.

## په سوداګرۍ او اقتصاد کې د سټنډرډونو ارزښت

سټنډرډونه د يو هېواد په سوداګرۍ او اقتصادي وده کې مهم رول لري. سټنډرډونه په سوداګرۍ او اقتصادي اړيکو کې د باور رامنځته کولو له پاره ډېر مهم دي.

سټنډرډونه مونږ ته په بهرنيو او کورنيو توکو او خدماتو باور راکوي. که چېرې يو سوداګر په وضع شويو سټنډرډونو پوره توکي خپل هېواد ته وارد نه کړي، نو سوداګرۍ او باور ته يې زيان رسېږي. دغه راز، که چېرې د يو هېواد په داخل کې په سټنډرډ برابر توکي توليد نه شي، نو داخلي توليدات نه پلورل کېږي او د يو هېواد ملي اقتصاد ته به ډېر زيان ورسېږي.

له بلې خوا، که چېرې يو هېواد په سټنډرډونو برابر توکي صادر نه کړي، نو نړيوال باور او له نورو هېوادونو سره به يې سوداګريزو اړيکو ته ډېر زيان ورسېږي. په نړيوال سوداګريز مارکېټ کې د باور ترلاسه کولو، ساتلو او له نورو هېوادونو سره د ښو سوداګريزو اړيکو له پاره په سټنډرډ د برابرو توکو توليد او صادرول ډېر مهم دي.

په کورني او بهرني مارکېټ کې د ځای نيولو او سيالۍ کولو له پاره هم مهمه ده چې يو سوداګر او مؤلد په منل شويو سټنډرډونو برابر توکي توليد، صادر او وارد کړي.

سټنډرډونه د يو هېواد د ژوند سطحه لوړوي او په سوداګريزو او اقتصادي موخو ترلاسه کولو کې ورسره مرسته کوي. دغه راز، سټنډرډونه کولی شي چې سوداګريزو بازارونو ته زموږ لاسرسی اسانه او چټک کړي.

## د اسلامي امارت له لوري تصويب شويو سټنډرډونو ته کتنه

اسلامي امارت هم اړتيا ته په کتو د سټنډرډ عالي شورا جوړه کړې، څو د سټنډرډ ملي ادارې له لوري تائيد شويو سټنډرډونو په اړه بحث او منظوري ورکړي. د دغې شورا مشري د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي.

د سټنډرډ عالي شورا لومړنۍ ناسته د ۱۴۰۳ کال د زمري په ۳۰ مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه او



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباديٰ
هفته‌نامه آبادی


دويمه هغه يې د ليندۍ په لسمه نېټه جوړه شوې وه. دويمه شورا کې دېرش سټندرډونه د سټندرډ عالي شورا له لوري تصويب شول.

د سټندرډ دغې دويمې شورا کې د ساختماني، خوراکي توکو او څښاک، طبي، کانونو، نفتي، نساجي، چاپېريال او د برېښنايي وسايلو په برخه کې ۳۰ سټندرډونه له هر اړخيز بحث وروسته تصويب شول.

د بېلګې په ډول د خوراکي توکو په برخه کې AS۹۱۳ نمبر سټندرډ د مميليو په اړه دی. د دغه سټندرډ تطبيق د مصرفوونکو له پاره د مميليو کېفيت او مصؤنيت تأمينوي. د دې تر څنګ د مميليو کېفيت د سيمه‌ييز او نړيوال معيار سره برابروي. دغه سټندرډ له يو نړيوال سټندرډ څخه اخذ شوی دی.

د خوراکي توکو په برخه کې بل سټندرډ AS۹۱۴ د جوسونو په اړه دی. دغه سټندرډ کې لومړی جوس (د مېوې اوبه) تعريف شوی دی. دغه سټندرډ به د مصرفوونکو له پاره د جوسونو برخه کې کېفيت او مصؤنيت تأمين کړي او هېواد کې به د بې کېفيته جوسونو د توليد او واردولو مخه ونيسي. دغه سټندرډ هم له يو نړيوال سټندرډ څخه اخيستل شوی دی.

طبي برخه کې د غاښونو طب کې د يو وار مصرف تزريقي ستنو په اړه AS۹۳۷ نمبر سټندرډ منظور شوی. د دغه سټندرډ په تطبيق سره به په روغتيايي سيستم کې کېفيت تأمين او خونديتوب به رامنځته شي. دغه راز، د بېلابېلو ناروغيو مخنيوی به وکړي.

سربېره پر دې په ډېرو نورو برخو کې هم بېلابېل سټندرډونه د سټندرډ عالي شورا له لوري په هېواد کې د کېفيت او خونديتوب په موخه تصويب شوي، څو هېوادوال له روغتيايي او چاپېريالي ستونزو سره مخ نه شي.

## پايله

په افغانستان کې په تېر کې د اداري فساد له امله ډېر بې کېفيته توکي توليد او وارد شوي دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د سټندرډ عالي شورا له لارې په افغانستان کې د بې کېفيته توکو د توليد او افغانستان ته يې د واردولو مخه ونيسي.

په همدې موخه د سټندرډ عالي شورا جوړه شوې چې تر اوسه يې په دوو غونډو کې څه باندې پنځوس سټندرډونه په هېواد کې د کېفيت او خونديتوب رامنځته کولو په موخه تصويب کړي دي.

که چېرې موږ په هېواد کې په سټندرډونو برابر توليدات، صادرات او واردات و نه لرو، نو په داخلي، سيمه ييز او نړيوال بازار کې به سوداګر او حکومت له سوداګريزو او اقتصادي ستونزو سره مخ شي.

# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۹,۹۵؋ | ۷۰,۰۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلدارې | ۲۴۲؋ | ۲۴۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۷؋ | ۱,۲۷؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۳,۴۸؋ | ۷۳,۵۳؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۶۸؋ | ۰,۶۸؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندۍ کلدارې | ۸۲۵؋ | ۸۲۵؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۸۸,۳۰؋ | ۸۸,۳۶؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۶۱؋ | ۱۸,۶۲؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۰۴؋ | ۱۹,۰۶؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۶۱؋ | ۹,۶۲؋ |

